محمد عارف رسولي ۲۰۱۶/۰۳/۱۲

# د افغانستان ستونزو او فرصتونو ته یوه کتنه

(دریمه برخه)

## زموږ د سیمه ایز ستراتیژیک موقعیت فرصتونه

په تیره دوهمه برخه کې موږ د خپل هیواد جغرافیايي موقعیت، ننګونو او ستونزو ته یو کتنه وکړه او د بهرنیاینو په لاسونو، د هغوي په عواقبو او پایلو مو خبري وکړي. دلته په دې دریمه برخه کې زموږ د سیمه ایز ستراتیژیک موقعیت څخه د ګټو اخیستو او د شته فرصتونو په هکله بحث کوو.

که انسانان له درایت او نوښت څخه کار واخلي زیاتي ننګوني په فرصتونو بدلیدلای شي. بشري تولني او ملتونه هم داسي دي. افغانستان د خپل جغرافیايي موقعیت په اساس که له ګڼو ننګونو سره مخ دی خو که موږ هوښیار و اوسو، دا ننګوني په فرصتونو هم بدلیدلای شي.

په نړی کې زیات اختراعات د جنګونو په وخت شوي دي. د دې لامل دادی چې په جګړه کې قوی اراده رامنځته کیږي، د نوښتونو او اختراعاتو لپاره زیرمي برابریږي او کارپوهان په کار ګومارل کیږي. که څه هم جګړې ښې نه دي او زیات زیانونه لري، خو دا هم یو واقعیت دی چې که په ټولنه کې یو څه اړین شرایط شتون ولري نو تهدید او سپکاوی خلک راویښوي، د کار انرژي پکې راټوکوي او خپلي دفاع ته یې هڅوي. که د نورو لخوا تپل شوی جنګ ننګونه ده خو یو ملت دا بهرني لاسوهنه په ملي بسیج او تیاری هم بدلولای شي.

که په کوم ملک کې وړتیا لرونکي مشران، کارپوهان شتون ولري او د کوم بل لوري له تهدید سره مخ شي، نو ستره وینټیا، انرژي، د خپلو پرګنو یووالی او وړتیا له ځانه ښیي. دا ټولنه او ملت له ټولو امکاناتو، پوهي او نه ستړي کیدونکو هڅو کار اخلی، ترڅو د ځان دفاع وکړي، پخپلو پښو د دریږي او نجات ومومي.

له بلې خوا، که له ځانه دفاع او نظامي وړتیا ښودل مهم دي خو په نن زمانه کې د یوه سنجول شوي داخلي سیاست په بنا د یوه رغنده بهرني سیاست لرل او د اقتصادي رغنده تګلارو پلي کول هم خورا زیات رول او اهمیت لری. هیوانه باید د خپلو ستراتیژیکو ګټو په خوندیتوب ښه پوه وي، چې له کوم ملک سره به څه وخت کې څنګه چلند وکړي .

د کارپوهانو له نظره په اوسنی نړۍ کې د سیمه ایزو اقتصادي ظرفیتونو نښلول او انتګرشن د ځینو ملکونو په نورو یو طرفه وابستګي کمولای شي، تول ملکونه په اقتصادي، تجارتي، ترانزیتي، د انرژۍ او نورو ګټو په مزو سره ترل کیږي او په متقابلو ګټو کې یې مثبت انډول راځي. دا اقتصادي راکړه ورکړه او په اړتیاوو کې انډول د ملکونو په منځ کې باور زیاتوي او له ثبات او سولي سره مرسته کولای شي. په شعارونو کې نه بلکه په عمل کې د خپل هیواد ګټي د نورو هیوادونو له ګټو سره توازن ورکول او ساتل یې مهم دي. چې دا بیا ګټورو علمي پلانونو او دولتي پالیسیو او دهغو پلي کولو ته اړتیا لري.

هغه ملتونه او مشران یې چې په ننیو نړیوالو بین المللي اړیکو او سیاست ښه پوهیږي د خپل هیواد داخلي او خارجي سیاست داسي عیاروي چې خپلې اړتیاوي تر وسه وسه نورو ته کمي او د نورو ځانته زیاتي کړي. که ستا د ملک د منافعو، ستا د زیرمو او لارو سره د نورو ملکونو ګټي وتړل شوي نو په درنه سترګه درته ګوري. که یوازي ستا د ملک په نورو اتکا وي هغوی دی له دې مجبوریت څخه بده ګټه اخلي او درته زیات اهمیت نه ورکوي .

افغانستان ښه چانسونه لري چې د آسیا د انرژۍ د راکړې ورکړې او د سترو نړیوالو مرکزنو ترمنځ یو څو اړخیزه اقتصادي دهلیز شي. همدارنګه، تمه ده چې زر زموږ هیواد د مرکزي او جنوبي آسیا او د ورېښمو دلارې پر سر په یوه ترانزیتي څلورلارې او د معلوماتي تکنالوژۍ او نوري فایبر په معبر هم بدل شي. ځیني به ووایي چې دا اقتصادي دهلیز، د نوري فایبر معبر نو موږ ته څه ګټه لري. ګټه نه بلکه زیاتي ګټي زموږ د هیواد لپاره لري. موږ به د انرژۍ له لیکو هم په خپله په سمه بیه ګټه واخلو، د انرژۍ منابع به مو متنوع شي، که په یوه منبع کې څه ستونزه پیښیږي، بله به هغه تشه ډکوي. همدارنګه، افغانستان به له نورو ملکونو د ترانزیت حق اخلي چې یو دوامداره عاید به د ملک خزانې ته ځي. د افغانستان پرستیژ او ستراتیژیک اهمیت به د یوه سیمه ایز او نړیوال لوبغاړي په توګه زیات شي، زموږ زیاتو خلکو ته به کار پیدا شي، دهغوي اقتصاد به ښه شي، د دې خلکو د پیرلو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

قدرت به زیات شي او په ملي اقتصاد به مثبته اغیزه وکړي. همدارنګه، زموږ زیاتې کمپنۍ به په راز راز مسلکي کارونو کې په کار وګومارل شي، وړتیا به یې زیاته شي. په داسې شرایطو کې نورې نړیوالې کمپنۍ هم په افغانستان کې کاروبار ته زړه ښه کوي او پانګونه مو په ملک کې زیاتیږي.

باید پوه شو چې دا فرصتونه نه د تل لپاره وي او نه د هرچا لپاره. دا فرصتونه داسې وي چې ټول ملکونه ورته ځیر وي، غواړي دا فرصتونه داسې وده وکړي چې زیاته او یا ټوله ګټه یې دوی ته ورسیږي. د مثال په توګه، د غازو نل لیکه، د ریل د پټلۍ لیکه او نورې سترستر سړکونه او اقتصادي دهلیزونه د څو مسیرونو څخه یوازې له یوه تیریدای شي، نړیوال ډګرونه یو د بل په ګاونډ کې زیاته وده نه کوي. نو هرچاچې لمړی ورته زمینه برابره کړه او په مهارت یې د ځان په ګټه له موکې کار واخیسته نور ورڅخه محرومیږي او یا یې ګټې ورته کمیږي. لکه د شطرنج په څیر هر څوک چې لمړی ښه چال وړاندې کړ طبیعي ده چې بل ته ستونزه جوړوي.

هرچا چې لمړی وار ورته ځان برابر کړ کیدای شي ورڅخه ګټه پورته کړي. نو هرڅوک چې ښه موقعیت، ښه پلان، زیرمې، کارپوهان او ښه خارجي سیاست ولري د خپل ملک په ګټه دا فرصتونه څرخولای شي، یو څه نور هیوادونه هم ورڅخه ګټه اخیستلای شي او نور بیا ورڅخه محروم پاته کیږي.

د دې فرصتونو څخه ګټه اخیستنه ترټولو زیات ثبات، سولې، ښه حکومتولۍ، غوره اقتصاد او ښو نړیوالو اړیکو ته اړتیا لري. که یو ملک دا ونلري نو دا پورته ستراتیژیک فرصتونه یې هم له لاسه وزي. د همدې او نورو ورته لاملونو له کبله، هیوادونه یو د بل په کورنیو چارو کې لاس وهنه کوي، ترڅو حریف هیواد په شخړو اخته، بیوزله او وروسته پاته وساتي او دا فرصتونه ورڅخه د ځان په ګټه واخلي. ځینې هیوادونه او د هغوی استخبارات تل په نورو هیوادونو کې داسې کسان لټوي چې هلته د پریکړو په وخت وربانديې نفوذ وکړي، او د خپلو ګټو لپاره یې وکاروي .

دا بیخي ثابته خبره ده چې زموږ په هیواد کې د اوسنیو شخړو ریښه اې لاملونه د نورو ترڅنګ دا هم دي چې د ځان په ګټه له موږ څخه پورته فرصتونه واخلي. نو موږ ته په کار ده چې راویښ شو او د خپلو ګټو ساتنه وکړو.

**زموږ موقعیت او زموږ د اوبو منابع**: زموږ له هیواد څخه پاکستان، ایران او د منځنۍ آسیا ملکونو ته د اوبو سیندونه جاري دي، که په تیر وخت او آن تر اوسه راته د ستونزو تومنه وه خو که هوښیار واوسو، خپله وړتیا زیاته کړو، دا اوبه موږ ته یوه ستراتیژیکه پانګه هم کیدای شي. موږ په هغو بندونه جوړولای شو، او د کرنې او انرژۍ په برخه کې ورڅخه کار اخیستلای شو. خو اړ یو چې  نړیوال قوانین مراعات کړو، لکه د ایران سره چې موږ د هلمند سیند په هکله یو تړون لرو له نورو سره هم باید هوکړې ته ورسیږو ترڅو نړیواله پانګه، مرسته او تخصص راجلب شي او بل به د هغوی د لاسوهنو څخه هم تر یوې کچې په امن کې شو.

له خپلو ګاونډیانو سره په ګډو هڅو داسې شرایط رامنځته کولای شو چې د ګډو ګټو، اقتصادي نښلونې او ستراتیژیکو اړیکو اساس شي. کله چې زموږ وړتیا زیاته شي، په تخنیکي، علمی او دیپلوماتیکي ساحو کې د خپل ملک له حقونو څخه سمه ننګه وکړو، له ګاونډیانو سره په اړینو ځایونو کې د انرژۍ په سکتور کې د ګډو ګټو د پروژو عملي کول شوني کړو نو زموږ د هیواد اوسنی یو طرفه تړاو به په نورو ملکونو یو څه بدل شي. د اوبو او انرژۍ په سکتور کې دا نوې پروژې به د منځنۍ آسیا څخه زموږ د هیواد له لارې سویلي آسیا ته د انرژۍ د لینونو غزول، د غازو نل لیکه یا ټاپي، ترانزیتي لارې او نور به په راز راز سکتورونو کې د سیمې د نورو هیوادونو وابستګي په موږ هم پیدا کړي.

د دې کار لپاره زموږ ملک اړینو حقوق پوهانو، دیپلوماتانو، د اوبو د زیرمو، د کرنې، چاپیریال ساتنې، ټولنیزو، اقتصادي او د نړیوالو اړیکو کارپوهانو ته اړتیا لري. دا خلک بیا کولای شي، چې له دولت سره د تخنیکي او مشورتي مرستو ترڅنګ زموږ د خلکو، د هغوی د نمایندګانو، رسنیو او نورو اړینو خواوو پوهاوی په اړوندو مسئلو کې زیات کړي ترڅو په ملي کچه پوهاوی زیات شي، او په ټولیزه توګه زموږ ملت ته د ګټورو پریکړو کول شونی کار شي.

که زموږ په ملت، رسنیو او کارپوهانو کې دا پوهاوی زیات نشي نو د دې سختو ملي پریکړو وس به ونلرو. ځکه دلته به ملت، د هغوي نمایندګان، کدرونه او چارواکي له ستراتیژیکو انتخابونو سره مخ وي. که اړینه پوهه نه وي، یو بل به ملامتوي، د خپلو ګټو په لوري به سم نه پوهیږي او ستراتیژیک فرصتونه به ورڅخه ضایع کیږي.

په پورته ملی فرصتونو باندې پوهه او په هکله یې سمې پریکړې کول څه ساده کار نه دی. ځکه، حریفان نه پریږدي چې ستا ملت ورڅخه پورته فرصتونه د ځان په ګټه واخلي. زموږ پخپل تاریخ کې د دې زیات مثالونه لرو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لکه څو لسیزې مخکې زموږ د ملک یوه ربښتیني بچي، د وخت لمړي وزیر شهید موسی شفیق او د افغانستان د هغه وخت دولت دا توان او وړتیا درلوده چي له ایران سره د هلمند د اوبو په هکله چي له افغانستان څخه ایران ته بهیږي تر مذاکراتو وروسته یوې مناسبې هوکړې ته ورسیږي. د هیواد دا ملي شخصیت یو ورزیده دیپلومات او حقوق پوه او خپلو ملي ګټو ته ژمن انسان و. د نړیوالو سیندونو د هوکړو کارپوهان وایي چي دا یوه ګټوره او ماهرانه پریکړه وه. د هیواد یو بل همداسي ملي شخصیت او د نړیوالو مذاکراتو او د اوبو د منابعو کارپوه فقید جمعه محمد محمدي و، چي نړیوال شهرت لري او په ترکیه او نورو ملکونو کې یې د نړیوال بانک سره کار کړی، خو په خواشینۍ سره کله چي هیواد ته راستون شو او د افغانستان د کانونو د وزیر په توګه یې دنده پیل کړه موږ د خپل تاریخ په یوه ډېره حساسه مرحله کې ورڅخه محروم شوو.

دا ویلای شو چي هغه هوکړه زموږ د هیواد په تاوان نه بلکه په ګټه وه. خو په خواشینۍ سره د سیاسي ملحوظاتو او د پردو د لمسون په بنیاد په هغه تور پورې شو چي زموږ اوبه یې خرڅې کړي دي او وروسته بیا شهید کړی شو. وروسته تر اوږدو شخړو وروسته زموږ د ملک د ظرفیتونو کمښت په تخنیکي، علمي او اقتصادي ساحو کې د دې لامل شو چي موږ د خپلو اوبو له زیرموڅخه سمه ګټه وانخلو. د آمو سیند چي د افغانستان خاوره د هغه د اوبو ۲۵ سلنه جوړوي خو موږ یوازې د هغه د ۲ څخه تر ۳ سلنه برخې ګټه اخلو او بس.

د نړیوالو هغو سندونو په هکله چي له یوه هیواده بل هیواد ته بهیږي زیاتې ډول ډول مذاکرې او هوکړې د اړوندو هیوادونو په منځ کې د نړیوالو سازمانو په مرسته ترسره شوې دي، چي څه ناڅه د ټولو ګټې په کې خوندي شوې دی، ګډې د انرژۍ او د سیلاوونو د کنترول د مخنیوي لپاره وربانديِ ستري ستري ټولګټې پروژې جوړې شوي دي او دواړه خواوې ورڅخه د قوانینو په اساس ګټه پورته کوي.

د مثال په توګه، د کولمبیا سیند چي له کاناډا څخه د امریکا متحده ایالاتو ته بهیږي او بیا بیرته د کاناډا خاورې ته ننوځي. د اوږدو مذاکراتو په لړ کې دواړو هیوادونو په هغه باندې داسي پروژې په ګډه جوړې کړې چي د انرژۍ د تولید او سیلاوونو د کنترول لپاره د دواړو هیوادونو په ګټه دي. تر ژورو مطالعو وروسته امریکایانو ته مالومه شوه چي که په کاناډا کې ستر ستر بندونه جوړ شي په ټوله دریایي حوضه کې به سیلاوونه کنترول شي او زیاته انرژي به هم تولید شي. همغه و چي په کاناډا کې د امریکا په مرسته درې لوی بندونه جوړ شول او ټول ټال ۴۴۷۰ مګاوا واټه د بریښنا انرژي یې تولید کړه. بیا وروسته کاناډا خپله بل بند هم جوړ کړ. همدارنګه، د دریایي حوضې په منځنۍ برخه او د امریکا په خاوره کې زیات نور بندونه هم جوړ شول او په ټوله دریایي حوضه کې (۳۶،۰۰۰) شپږ دیرش زره مګاواټه انرژي په کې تولیدیږي. په دې توګه، په دواړو ملکونوکې هم انرژي تولید شوه، هم سیلاوونه کنټرول شول او هم د کرنې لپاره اوبه برابرې شوې. او له بله پلوه د امریکا او کاناډا دواړو ملکونو اقتصادونه یو له بل سره وتړل شول او په ګټه او تاوان کې سره شریک شول. د دواړو ملکونو داقتصاد دې تړاو یو طرفه اړتیا کمه او د هغوی په مناسباتو یې هم مثبته اغیزه کړې ده.

همدارنګه، په شمالي افریقا کې د هغو هیوادونو په منځ کې چي د نیل په سیند پراته دي د پخوا په نسبت اوس د ګډو هڅو، تخنیکي مرستو او زیاتو مذاکراتو په مرسته داسي امکانات ورڅ تربلې زیاتیږي چي د ګډو ګټو لپاره د نیل په سیند باندې ستري ستري پروژې پلي شي. کیدای شي، په اتیوپیا کې د ځمکې پرسر تر ټولو ستر بند جوړ شي، چي د انرژۍ په تولید کې به ورڅخه نور هم ګټه واخلي. په همدې توګه، د نړۍ په نورو برخو کې لکه د میکانګ د سیند په حوضه کې چي په ختیځه آسیا کې دی، د هند او پاکستان ترمنځ او نورو ځایونو کې ورته هوکړې شوي دي.

تر اوسه زموږ تجارتي، اقتصادي، ترانزیتي او د انرژۍ د راکړې ورکړې مناسبات له نورو سره یو طرفه جاده وه. موږ نورو ته محتاج وو، خو د هغوي موږ ته یا بیخي اړتیا نه وه او یا بیخي کمه وه. خو روښانه ده چي که زموږ په خاوره کې د نړیوالو قوانینو له مخې د ګډو ګټو او د انرژۍ د تولید لپاره بندونه جوړ شي، که د ټاپي، کاسا، له ترکمنستانه تر پاکستانه د بریښنا د لین د غزولو د انرژۍ پروژې پلي شي د هغوي په مټ به د انرژي په سکتور کې د افغانستان محوریت تثبیت کړي. په دې به تریوې کچې د نورو اړوندو هیوادونو په موږ هم د انرژۍ په سکتور کې وابستګي زیاته شي.

همدارنګه، که موږ وکولای شو چي د خپل تجارت لارو ته تنوع ورکړو، لکه د لاجوردو لاره، د چابهار بندر، د افغانستان او چین تر منځ مستقیمه ترانزیتي لاره، د شیرخان بندر څخه تر اقیني بندره او هراته پورې، له اسلام قلعه څخه تر چمنه پورې، له شیرخان بندره تر تورخم او چمن پورې، له غلام خانه تر شیرخان بندر او حیرتان پورې د ریل پټلۍ سره ونښلي نو په تجارتي او ترانزیتي مسئلو کې به له اوسنۍ یو طرفه وابستګۍ څخه را ووزو او په ترانزیت کې به هم تریوې کچې په افغانستان باندې تکیه وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

همدارنګه، زموږ د خپلو سترو طبيعي زيرمو د مرکزونو لکه عينک، حاجي ګک، په شمال، جنوب او غرب کې د نورو پروژو په فعاليدو به په هيواد کې د ننه اقتصادي دهليزونه رامنځته شي، او هم د هيواد څخه د باندې د نورو سترو نړيوالو اقتصادي مرکزونو لکه د جنوبي آسيا او منځنۍ آسيا، چين او منځني ختيځ به منځ کې د اقتصادي راکړو ورکړو دهليزونه هم رامنځته کيداى شي. دا زموږ هيواد ته زياتي رنګارنګ ګټي لري.
خو دا هرڅه د سولې، ښه مشرتابه، ملي عزم او په عقلاني پريکړو سره کولاى شو. باور شته چې زموږ په ملک کې اوس دا وړتيا د راټوکيدو په حال کې ده چې له خپل دې پوتنسيال څخه ګټه واخلو او خپلو ستراتيژيکو موخو ته ورسيږو. خو شرط داداى چې زموږ هيوادوال، د شخړو ټولې خواوې سرونه ګريوانونو ته ټيت کړي، په ملت او ځان رحم وکړي او سولې ته لاره اواره کړي.
دلته اړينه بولم ووايم چې د خپل تاريخ په دې حساسه مرحله کې زموږ ملت ته او په خاصه توګه هغو کسانو ته چې په پورته مسئلو پوهيږي اړينه ده، او دايي ستر ديني او وطني مسؤليت دى چې د وړو وړو ستونزو په ځاى پورته سترو سترو ستراتيژيکو فرصتونو ته ښه ځير شي او د لاسته راوړو اړين شرايط يې په ځان کې پيدا کړي. هغه ناخوالي او ځانځانۍ چې له موږ څخه دا فرصتونه اخلي وپيژني او مخه يې ونيسي.
د هيواد اوسنى ولس مشر محمد اشرف غنى به د يوه انسان په صفت زيات کمښتونه لري، د هغه لپاره ډېر لږ سم شرايط شته خو زيات نور يې بيا هره لحظه مخه ډب کوي او نه پريږدي چې ستري لاسته راوړني ولري. خو يوه خبره ډېره روښانه ده چې هغه د خپلې سابقې له کبله په پورته مسئلو باندې تر ډېرو نورو ښه پوهيږي. هغه په پرمختيايي کارونو کې ماهر دى، ازموينه يې ورکړې او په کار نه ده چې ورباندې بې باوره شو، هغه له نړيوالو قدرتونو، نړيوالو شخصيتونو، پرمختيايى او مالي موسسو سره د خبرو سړى دى. هغه د ملي نهادونو په جوړولو کې نړيوال شهرت لري. هغه ښه پوهيږي چې له دې پورته فرصتونو څخه څنګه ګټه واخلي نو اړينه ده د هيواد ملي ګټو د خونديتوب لپاره ورته موکه ورکړو، مرسته ورسره وکړو او له تخريب څخه يې ځان وساتو.
زه چې د خپل کار او له نړيوالو کارپوهانو سره تل په تماس کې يم يقين لرم چې که موږ دا موکه له لاسه ورکړو بيا به ارمان کوو، تاريخ او راتلونکي نسلونه به لعنت راباندې وايي، او څه به لاسته نه راځي. د وطن د يتيمانو، کونډو او وچو شنډو بيکاره ځوانانو لپاره بايد له فرصتونو په عقلانيت ګټه واخلو او هغه ضايع نکړو.
نور بيا..
د يوه سرلوړي، خپلواک او هوسا افغانستان په هيله
کابل، افغانستان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ